# ملي ګټې؛ زهرجن خنجر!

## (ژباړه)

مسلمانان باید ملي ګټې د یوې سیاسي ګټې په توګه ونه پېژني. سیاسي ګټه یوه بشپړه اصطلاح ده، چې د اسلام په ثقافت کې ځای لري او له اسلام سره سمه ده. موږ په اسلامي فقه کې هېڅ داسې کتاب نه لرو چې کوم باب یا څپرکی یې دې د ملیت یا قومیت په اړه وي او یا یې دغه مفهوم تایید کړی وي. همدارنګه په هېڅ یوه شرعي نص او عربي لغت کې د ملیت مفهوم ته پام نه دی شوی؛ څکه د «وطنیت» معنا چې په پښتو ژبه کې ورته ملیت وایو، د «مېشت کېدو» په معنا ده، یعنې استوګن او مېشت شوی وي. ویل کېږي «وطن فلان بالمکان» یعنې فلانی مېشت شو او فلانی ځای یې د ژوند لپاره وټاکه. که دغې معنی ته ځیر شو، ګورو چې د دغه مفهوم او هغو قوانینو او سیاسي ارزښتونو ترمنځ هیڅ اړیکه نشته چې دولت یې د خلکو د ګټو لپاره وضع کوي.

موږ په خپل طبیعي ژوند کې د انقلابونو د رامنځته کېدو او د ایډیولوژیو د نسکورېدو پر مهال د دغو قوانینو د بدلون شاهدان یو؛ د بېلګې په توګه د اروپا ملت د هغه حکومتي ظلم پر وړاندې نوی سیاسي نظام رامنځته کړ، چې له پادشاهانو سره د کلیسا د جوړجاړي په پایله کې پر خلکو روان و او دوی له ژوند څخه د دین د بېلېدو د عقیدې پر بنسټ دغه سیاسي نظام پیل کړ او داسې یو نظام ترې راووت چې دغه سیاسي نظام له وطن، خاورې او جغرافیې یعنې غرونو، دښتو او سیندونو سره هېڅ اړیکه نه درلوده؛ بلکې دغه سیاسي نظام د خلکو له عقل او فکر او له هغه څه چې دوی هوکړه پرې کړې وه او ګټې یې خوندي کولې، رامنځته شو.

دغه مورد د هغو خلکو په اړه دی چې د خپل تحریف شوي دین پر وړاندې یې انقلاب وکړ او پر وړاندې یې جګړې ته ور ودانګل؛ خو اسلامي امت باید په دې قضیه کې څه ډول دریځ ونیسي؟ همدارنګه د بلشویکیانو انقلاب د همغه وخت خلکو د افکارو په پام کې نیولو سره کمونیستي نظام رامنځته کړ او بیا د کمونیستي مفکورې د فساد او ناتوانۍ تر ښکاره کېدو وروسته له منځه ولاړ او بیا یې یو بل سیستم رامنځته کړ، چې له تېر سیستم سره په ټکر کې و او دغه سیستم هم له ملي او جغرافیایي ارزښتونو څخه لرې و.

نو په ټینګار سره ویلی شو چې ملي ګټې یوه ناسمه اصطلاح ده، چې د واقعیت په ډګر کې نشته، بلکې دغه اصطلاح پر داسې مفهوم اطلاقېږي چې د هغو ملتونو په نزد له وطن او استوګنځي څخه ډېره لرې

موخه لري، چې د دین او سیاسي نظام پر ضد یې انقلاب وکړ. دغه اصطلاح د دولت د جغرافیې او حدودو او د هغوی د ګټو د پایلو په اختلاف سره تغیر کوي او د ګټو پر اساس یې تصمیم نیول کېږي، چې ایا سره یوځای شي که ووېشل شي، په سوله پرېکړه وشي که په کورنۍ جګړه. لکه څنګه چې اوسمهال د روسیې او اوکراین او همدارنګه د چین او تایوان تر منځ په ځینو سیمو کې دغه اختلاف جریان لري؛ هغه تایوان چې په حقیقت کې یو وخت ټول یوه خاوره وه.

کله چې موږ د سیاستوالو، د واک د خاوندانو او قانون جوړوونکو لخوا د ملي ګټو د اصطلاح کارونې مفهوم ته ځیر شو، نو د دې اصطلاح پر وړاندې له تناقض او ګډوډۍ سره مخ کېږو او دغه ابهام او تناقض شته دی؛ مګر دا چې په معیارونو او د ملي ګټو له مفهوم سره په تعامل کې دوه ګونی چلند وکړو.

پر همدغه اساس ویلی شو چې د ملي ګټو مفهوم د دولت په موخو او غوښتنو پورې تړاو لري؛ هغه که دغه غوښتنې او موخې اقتصادي، یا نظامي او یا هم فرهنګي وي. د دغو موخو په مشخصولو سره د کورنیو سیاستونو موخې او نړیوالې اړیکې ترسیمېږي، یعنې خپل قوانین له واقعیت، امکاناتو او خپل ایډلوړي ځخه اخلي. لکه څنګه چې هر دولت هڅه کوي چې د خپلو ملي ګټو د خوندي کېدو لپاره چې له سیمې او د نړیوالو حدودو په چوکاټ کې له مشخصې جغرافیې سره تړاو لري او خپلو قوانینو سره چې د دولت له واقعیت، امکاناتو او خپل ایډلوړي اخیستل شوي، ځان عیار کړي. نو ملي ګټې د سیاست په چوکاټ کې د واقعیت‌پالنې د یو مکتب تنظیم کېدو ته ویل کېږي.

کله چې موږ ملي اصطلاح ته له سیاسي اړخه وګورو، دې پایلې ته رسېږو چې دغه اصطلاح د پانګوالۍ اصطلاح ده، چې له مادي ګټې پرته بل هېڅ شي ته ارزښت نه ورکوي. له بده مرغه د دې اصطلاح تخم هغه وخت دلته وشیندل شو، کله چې اسلامي خاورې په کوچنیو او کمزورو دولتونو ووېشل شوې، چې اوس د نورو د لاس نانځکې دي.

کله چې دغه اصطلاح د شریعت په چوکاټ واچوو، نو وینو چې دغه اصطلاح د مسلمانانو دین او ژوند ته ډېر ستر خطر لري:

**لومړی-** د دې اصطلاح لومړی خطر عقیدوي دی؛ ځکه اسلامي عقیدې د وحې پر اساس د الله سبحانه وتعالی د اوامرو ترسره کولو له امله، هر هغه چا ته د حقونو ورکړه او د واجباتو مشخصول لازم کړي، چې د اسلامي دولت تابع وي. یوازې الله سبحانه وتعالی د خپلو بندګانو لپاره تکالیف، واجبات او حقونه ټاکلي

دي او دغه ارزښتونه د خاورې او وطن پر اساس نه دي. نو حقونه د اسلامي خاورو په اختلاف سره توپير نه کوي او د جغرافيې په اختلاف سره نه ساقطېږي. پر همدغه اساس هغه څه چې د يو مسلمان حق دی او هغه څه چې پر يو مسلمان واجب دي، په شرعي دليل سر ثابت شوي، نه د جغرافيايي او سياسي دليل پر اساس.

**دويم-** د ملي ګټو دويم خطر د مسلمان د فکر په طريقه کې منهجي خطر دی؛ ځکه د مسلمان منهج د فکر په طريقه او تصميم کې له شرعي دليل څخه په شرعي حکم پورې مشروط او مقيد دی. په افعالو کې اصل پر شرعي حکم مقييد کېدل دي. نو د مليت ليدلوری له شرعي حکم سره په ټکر کې دی، چې د سياسي او جغرافيايي واقعيتونو پر محور راڅرخي او دغه محور له حلالو، حرامو او د الله سبحانه وتعالی د اوامرو له تعظيم څخه لرې دی او په حقيقت کې د الله سبحانه وتعالی د حکم د له منځه وړلو لپاره يوه دروازه ده. الله سبحانه وتعالی فرمايلي:

**﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُّبِينًا﴾ا** [احزاب: 36]

**ژباړه:** *مومن نر او ښځه ته حق نه لري، کله چې الله سبحانه وتعالی او پيغمبر يې يو امر لازم وګڼي، نو دوی دې په هغو کې اختياري ولري؛ هر څوک چې د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړي، ښکاره ګمراهي يې کړې ده.*

همدارنګه په اسلامي فکر کې يوه اساسي قاعده دا ده، چې د الله سبحانه وتعالی دين د بندګانو د ګټو د خوندي کېدو لپاره راغلی دی، لکه څنګه چې الله سبحانه وتعالی فرمايلي دي:

**﴿وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُواْ وَاتَّقَواْ لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ وَلَـكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذْنَاهُم بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ﴾** [اعراف: 96]

**ژباړه:** *که د هغو ښارونو خلکو ايمان راوړی او تقوا يې غوره کړې وی، حتما به مو پر دوی له اسمان او ځمکې څخه برکتونه نازل کړي وی؛ خو هغوی زموږ د هدايت پيغامونه دروغ وبلل؛ نو موږ هم هغوی ته د* خپلو دغو عملونو له امله جزا ورکړه.

همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمايلي دي:

﴿**وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى**﴾ [طه: 124]

***ژباړه:*** *هر څوک چې زما له یاد څه مخ واړوي، په رښتیا چې هغوی به سخت ژوند ولري او د قیامت په ورځ به یې نابینا راپورته کړو.*

نو د مسلمانانو ګټې په دې کې دي، چې یو امت دی او ملیت یې نه شي سره بېلولی.

همدارنګه یوه بله اساسي قاعده دا ده، چې د ګټو ټاکل د عقل پر اساس نه، بلکې د شریعت پر اساس دي. الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

﴿**كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ وَعَسَى أَن تَكْرَهُواْ شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَعَسَى أَن تُحِبُّواْ شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ وَاللّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لاَ تَعْلَمُونَ**﴾ [بقره: 216]

**ژباړه:** *جهاد پر تاسو فرض کړل شوی؛ په داسې حال کې چې هغه به مو نه خوښېږي، کېدای شي ستاسو یوه څه نه خوښېږي او په هغو کې مو خیر وي او کېدای شي یو څه مو خوښېږي، خو هغه ستاسو په زیان وي او الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ.*

نو هر ځای چې شریعت وي، مصلحت او ګټه هم هلته دي؛ نه برعکس. له همدې امله هېڅوک د الله سبحانه وتعالی دین د ګټو په ضایع کولو نشي تورنولی.

**درېیم-** د ملي ګټو بل خطر مبدئي دی؛ ځکه مبدأ هغه عقیده ده چې باید وساتل شي، د همدې مبدأ له مخې باید د الله سبحانه وتعالی عبادت وشي او دا هغه نظام دی چې باید پلی شي او هغه رسالت دی چې باید ولېږدول شي. الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

﴿**هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَكَفَى بِاللَّهِ شَهِيدًا**﴾ [فتح: 28]

***ژباړه:*** *هغه چې خپل رسول یې له هدایت او حق دین سره راولېږه، ترڅو خپل دین پر ټولو دینونو برلاسی او غالب کړي او پر دغه امر د الله شاهد کېدل بسنه کوي.*

نو ملیت عقیده نقض کړې، شرع یې ځنډولې او رسالت یې ضایع کړی دی.

**څلورم-** ملي ګټې سياسي خطرونه لري؛ د سياسي رژيمونو ډېروالی د ګټو اختلاف او ټکر رامنځته کوي، دا هغه څه دي چې د مسلمانانو د تفرقې لامل کېږي او پخپله يو منکر عمل او ستره ګناه ده. الله سبحانه وتعالی فرمايلي دي:

**﴿وَلاَ تَكُونُواْ كَالَّذِينَ تَفَرَّقُواْ وَاخْتَلَفُواْ مِن بَعْدِ مَا جَاءهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَأُوْلَـئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾**

[آل‌عمران: 105]

***ژباړه:*** *د هغو خلکو په څېر مه کېږئ چې هغوی ته ښکاره نښې راغلې، خو دوی تيت پرک شول او اختلاف يې وکړ؛ د دغو کسانو لپاره ستر عذاب دی.*

له شک پرته چې مليت يو بدبويه، ناوړه او متعصب عمل دی. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**«دعوها فانها منتنة»**

***ژباړه:*** *هغه پرېږدئ، ځکه بدبوی دی.*

همدارنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**«ليس منا من دعا الی عصبية وليس منا من قاتل علی عصبية وليس منا من مات علی عصبية»**

***ژباړه:*** *څوک چې عصبيت ته دعوت وکړي، له موږ څخه نه دی؛ څوک چې د عصبيت لپاره وجنګېږي، له موږ څخه نه دي او څوک چې د عصبيت لپاره مړ شي، له موږ څخه نه دی!*

ملي عصبيت د ټولو فسادونو مور او د هر ډول شر يوځای کوونکی دی، چې حرمت يې ډېر شديد حرمت دی. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**«يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِينَ! اللهَ اللهَ، أَبِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ وَأَنَا بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ بَعْدَ إِذْ هَدَاكُمُ اللهُ إِلَى الْإِسْلَام، وَأَكْرَمَكُمْ بِهِ، وَقَطَعَ بِهِ عَنْكُمْ أَمْرَ الْجَاهِلِيَّة، وَاسْتَنْقَذَكُمْ بِهِ مِنَ الْكُفْرِ، وَأَلَّفَ بِهِ بَيْنَكُمْ، تَرْجِعُونَ إِلَى مَا كُنْتُمْ عَلَيْهِ كُفَّاراً؟»**

**ژباړه:** *اې د مسلمانانو ډلې! له الله وډار شئ! ايا وروسته تر دې چې الله سبحانه وتعالی په اسلام سره تاسو هدايت کړئ، د اسلام په وسيله يې پر تاسو احسان وکړ، د اسلام په واسطه يې له تاسو څخه*

*جاهلیت لرې کړ، له کفر څخه یې وژغورلئ او تاسو یې د اسلام په وسیله یو موټی کړئ، بیا هم جاهلیت ته وردانګئ. په داسې حال چې زه ستاسو په منځ کې یم. نو بیرته همغه خپل د کفر حالت ته ور ګرځئ؟!*

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«لَيَنْتَهِينَّ أَقْوَامٌ يَفْتَخِرُونَ بِآبَائِهِمْ الَّذِينَ مَاتُوا، إِنَّمَا هُمْ فَحْمُ جَهَنَّمَ، أَوْ لَيَكُونُنَّ أَهْوَنَ عَلَى اللهِ مِنَ الْجُعَلِ الَّذِي يُدَهْدِهُ الْخِرَاءَ بِأَنْفِه. إِنَّ اللهَ قَدْ أَذْهَبَ عَنْكُمْ عُبِّيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ وَفَخْرَهَا بِالْآبَاء»**

**ژباړه:** *یا به خلک پر خپلو مړو پلرونو ویاړ کول پریږدي؛ ځکه هغوی د دوزخ سکاره دي. که نه نو کوم کسان چې پر خپلو پلرونو ویاړي، له هغې حشرې څخه به ډېر ذلیل شي چې د انسان مرداري په پوزه رغړوي. په یقین سره چې الله سبحانه وتعالی له تاسو څخه د جاهلیت فخر او ویاړ لرې کړی او له تاسو څخه یې پر پلرونو ویاړ کول هم لرې کړي دي.*

په ربښتیا چې منفورې او ناوړې ملیتپالنې زموږ په ژوند کې خپله زهرجنه مېوه پخه کړې ده او موږ هره شېبه د هغې تریخ خوند څکو او نن ورځ غوره امت د سیند د ځک په څېر دی، چې هېڅ سیادت، خپلواکي، عزت او شوکت نه لري. نن ورځ موږ د مسلمانانو د شتمنۍ لوټلو، فقر، لوږې او محرومېدو شاهدان یو. موږ د ناحقه وینې تویېدنې شاهدان یو. د مسلمانانو د مقدساتو سپکاوی مباح شوی، خو موږ لا هم بې حرکته یو. نن ورځ په غزه کې وحشیانه وژنې او ویجاړۍ یوازې د غزې په قضیه بدلې شوې او په ډېرې بې شرمۍ مو هغه یوازې په یوه قومي قضیه او قدس مو په یوه فلسطیني قضیه بدل کړي دي؛ په داسې حال کې چې الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلاَّ عَلَى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ وَاللّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ﴾** [انفال: 72]

**ژباړه:** *که یې له تاسو څخه په دین کې مرسته وغوښته، پر تاسو یې مرسته واجب ده؛ خو دا چې د هغه قوم پر وړاندې وي چې ستاسو او د هغوی تر منځ تړون وي. په ربښتیا چې الله هر هغه څه ویني، چې تاسو یې ترسره کوئ.*

الله سبحانه وتعالی فرمایلي:

**﴿إِلاَّ تَنفِرُواْ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلاَ تَضُرُّوهُ شَيْئًا وَاللّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾**

[توبه: 39]

**ژباړه:** *که د جهاد پر لور حرکت ونه کړئ، تاسو به له ډېر دردوونکي عذاب سره مخ شئ او ستاسو پر ځای به بل قوم ستاسو ځایناستی شي او هغه ته به هېڅ زیان ونه رسوئ او الله تعالی د هر څه وس لري.*

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«المسلم أَخُو الْمُسْلِمِ لاَ يَظْلِمُهُ وَلاَ يُسْلِمُهُ، مَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللهُ فِي حَاجَتِهِ، وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً فَرَّجَ اللهُ عَنْهُ بِهَا كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ القيامة»**

**ژباړه:** *مسلمان د مسلمان ورور دی، پر هغه ظلم نه کوي او دښمن ته یې نه سپاري. هر څوک چې د خپل مسلمان ورور اړتیاوې پوره کړي، الله سبحانه وتعالی د هغه اړتیاوې پوره کوي. څوک چې له یو مسلمان څخه غم لرې کړي، الله سبحانه وتعالی به له هغه څخه د قیامت غمونه لرې کړي.*

همدارنګه فرمایي:

**«ما من امْرِئٍ يَخْذُلُ امْرَأً مُسْلِماً فِي مَوْضِعٍ تُنْتَهَكُ فِيهِ حُرْمَتُهُ وَيُنْتَقَصُ فِيهِ مِنْ عِرْضِهِ إِلَّا خَذَلَهُ اللهُ فِي مَوْطِنٍ يُحِبُّ فِيهِ نُصْرَتَهُ»**

**ژباړه:** *که چېرې د یو مسلمان په نه ملاتړ سره د بل مسلمان حرمت او عزت له منځه ځي، نو الله سبحانه وتعالی به نوموړی هم په داسې ځای کې له مرستې بې برخې کړي، چې دی ورته اړتیا لري.*

ملي ګټې د دې وسیله ګرځېدلې چې غزې ته خلک شاه کړي، د اجیرانو عیبونه پټ شي او خاینان توجیه وکړي. زموږ د خلکو په حق کې ظلم شوی او موږ د ماشومانو، سپین‌ږیرو، ناروغانو او بندیانو د وژلو او ځورولو شاهدان او همدارنګه موږ د ونو، ډبرو او د ژوند د ټولو وسایلو د له منځه وړلو شاهدان یو؛ خو دغه ټولې تېروتنې او ظلمونه د ناوړه ملي ګټو تر چتر لاندې پېښېږي!

په الله سبحانه وتعالی قسم چې دا ملي گټې نه دي؛ بلکې د تاج او تخت گټې دي. د هغو مزدورو نظامونو گټه ده، چې د مسلمانانو وینه، ابرو او مقدسات یې په ډېره کمه بیه پلورلي دي؛ یعنې د مزدورو او لاسپوڅو استعمارگرو نظامونو د خیانت په قېمت سره.

**۱۴۴۵هـ.ق د ذولقعدې ۱۴مه**

**۲۰۲۴م د مې ۲۲مه**

**لیکوال: استاد سعید رضوان ابوعماد**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**